اوونیزه

# هفته نامه معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۸) ماه ربیع الاول ۱٤٤۷ هـ ق. مطابق ماه سنبله ۱٤۰٤ هـ. ش.


مطالعه کلید استعدادهای پنهان است

سرمقاله

## طالب العلمان او زده کوونکي د سبا د ټولنې معماران

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د یو ملت او هېواد پرمختګ د هغه د وګړو په علمي ودې پورې تړلی دی، او دا وده یوازې د اغېزمن تعلیم له لارې شوني ده. ښوونه او روزنه انسان ته د الله جل جلاله پېژندنه، تحلیل، د اسلامي او ملي ارزښتونو پېژندنه، نظم او د مسؤلیت ادا کول ورزده کوي. په دې ملي او ټولنیز بهیر کې استاذان، ښوونکي، طالب العلمان او زده‌کوونکي د ځنځیر د کړیو په څېر یو د بل بشپړونکي دي. استاذان او ښوونکي نه یوازې د مضمون استاد بلکې د شخصیتونو جوړوونکي، د فکرونو راویښوونکي، د زده کوونکو د استعدادونو پالونکي او وده ورکوونکي دي. دوی هغه څوک دي چې د ټولنې د فکري نقشو انځورګر بلل کېږي چې باید د علم د زده کړې ترڅنګ زده‌کوونکو ته نېک اخلاق، ښه سلوک او مسؤلیتونو منل هم ور زده کړي. د استاذانو او ښوونکو مسئولیت یوازې د کتاب د محتوا تدریس نه دی، بلکې هغوی باید د وخت، نوې تکنالوژۍ او معاصرو ښوونیزو میتودونو سره ځان عیار کړي، زده‌کوونکو ته د فکر کولو، پوښتنو کولو او نوښت زمینه برابره کړي، او د هغوی ورتیاوو ته وده ورکړي. له بل لوري طالب العلمان او زده‌کوونکي باید د وخت پابند، هڅاند، مسئول او د خپلو استاذانو او ښوونکو د لارښوونو سره سم خپلې زده کړې تر سره کړي، هغوی باید له علم سره مینه ولري او د ژوند مهارتونه زده کړي. خپلو استاذانو او ښوونکو ته احترام، ښوونځي ته پابندي، اسلامي او ټولنیزو ارزښتونو ته درناوی ولري.
د تعلیم دا بهیر هغه مهال بشپړېږي چې کورنۍ هم پکې فعاله ونډه ولري. والدین باید د خپلو ماشومانو د زده‌کړې ملاتړي واوسي، هغوی ته چاپېریال برابر کړي، د مدرسې او ښوونځي له مسئولینو سره همغږي ولري. له بله پلوه د پوهنې وزارت مسئولیت لري چې ښوونکو ته لازمې آسانتیاوې برابرې کړي، هغوی ته مسلکي روزنه او د ښوونې او روزنې مناسب چاپېریال را منځ ته کړي، چې لله الحمد د پوهنې وزارت په تېرو څلورو کلونو کې په یادو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي چې د هېواد په کچه تر اوسه د زرګونو مدرسو او ښوونځیو جوړول، ښوونځیو ته په وخت سره د درسي توکو وېش او د ښوونکو د مسلکي وده په برخه کې د سیمینارونو جوړول یې ښکاره بېلګې دي، چې په دې سره د هېواد په سلګونو زره طالب العلمانو او زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شوی. د هېواد د بچیانو سالمې ښوونې او روزنې په برخه کې د پوهنې وزارت نه ستړې کېدونکې هڅې لا هم روانې دي. د پوهنې وزارت په دې باور دی چې مدرسې او ښوونځي باید یوازې یو فزیکي ځای نه وي، بلکې داسې بنسټ وي چې هلته طالب العلمان او زده‌کوونکي خپلو وړتیاوو ته وده ورکړي او د هېواد د روښانه راتلونکي لپاره وروزل شي. تعلیم هغه ګډ مسؤلیت دی چې یوازې د ښوونکو، استاذانو، طالب العلمانو. زده‌کوونکو یا پوهنې وزارت ترمنځ محدود نه دی، بلکې دا د ټول ملت ګډ مسئولیت دی چې په هېواد کې د علم او پوهې ډېوه بله وساتي.
ګرانو هېوادوالو! راځئ له قدرمنو مدرسینو او ښوونکو سره د خپلو بچیانو د ښوونې او روزنې درونډ مسئولیت په ګډه ادا کړو او لکه د تېر په څېر د علم او پوهې ودې ته لاسونه ورکړو، د هېواد د بچیانو په سالمې روزنې سره د هېواد روښانه راتلونکی تضمین کړو. ان شاءالله

## کندهار ولایت ته د پوهنې وزیر سفر




د پوهنې وزارت د محترم وزیر الحاج مولوي حبیب الله آغا په مشرۍ یو پلاوي چې د تعلیمي وضعیت ارزونې په موخه کندهار ولایت ته سفر کړی وو د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي په ملتیا د سپین بولدک ولسوالۍ له یو شمېر ښوونیزو مرکزونو څخه لیدنه وکړه.
د پوهنې محترم وزیر د خپل سفر پرمهال د سپین بولدک ولسوالۍ له شاوخوا ۴۵۰ تنو دیني علماءکرامو او د مدارسو له مسئولینو سره هم وکتل. نوموړي په دې لیدنه کې د دیني زده‌کړو پر ارزښت خبرې وکړې او وې ویل چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې د پوهنیز نظام پیاوړتیا او پراختیا ته ژمن دی.
همدارنګه، د پوهنې محترم وزیر په ځینو تعلیمي مرکزونو کې د تدریسي بهیر، د طلابو او زده‌کوونکو وضعیت او د قرآنکریم د حفظ او تجوید بهیر وارزوه او اړوندو مسئولینو ته یې دښوونې او روزنې د کیفیت لالوړوالي په اړه اړینې سپارښتنې وکړې.

## تجلیل از یوم الفتح و تمجید طلاب ممتاز دارالعلوم عربی کابل



در مراسمی با شکوهی از پیروزی امارت اسلامی افغانستان در دارلعلوم عربی کابل تجلیل و در ضمن نتایج امتحان چهارو نیم ماهه طلاب این دارالعلوم نیز اعلام و طلاب ممتازی که در امتحان چهارونیم ماهه نمرات عالی اخذ نموده بودند از سوی مسئولان مورد تشویق و تمجید قرار گرفتند.
در آغاز برنامه محترم مولوی حمدالله نعمانی مسئول این دارالعلوم در سخنانی در مورد مبارزات بیست ساله مجاهدین امارت اسلامی علیه اشغال گران جهانی، صحبت های همه جانبه نموده،..

ص۳

## په لوګر ولایت کې د ۷ بابه ښوونځیو ودانۍ پرانیستل شوې

د لوګر ولایت په برکي برک، څرخ او خروار ولسوالیو کې د ۷ بابه ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ، د یوې همکارې اداري په مالي ملاتړ سره د ۷۵ مېلیون افغانیو په ټولیز لګښت جوړې شوې، چې د پوهنې رهبرۍ، د ولایتي اداري د چارواکو، نورو سیمه ییزو ادارو او د یو شمېر علماءکرامو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
یادې ودانۍ، چې په اساسي ډول جوړې شوې دي، هره یوه یې شپږ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، سل سېټه مېزونه اوڅوکۍ، د څښاک پاکو اوبو منظم سیستم، لمریزې برېښنا شبکه، تشنابونه او نورو اړین لوازم لري.
د لوګر ولایت پوهنې مسئولینو په وینا، د دغې ودانیو په رغېدلو سره، د دې ښوونځیو له ۲۱۰۰ څخه زیاتو زده‌کوونکو لپاره سالم ښوونیز چاپېریال رامنځته شو.
د پوهنې مسئولینو، یو شمېر سیمه ییزو چارواکو او دیني...

۳مخ

در این شماره


د خپښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان — ۲مخ

هغه هیله چې پوره شوه — ۳مخ

د کابل ښار د پوهنې او خصوصي زده کړو نوي رئیسان معرفي شول — ٤مخ

# د خېښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ الْعٰلمين والصَّلٰوة والسَّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**د مړي په مراسمو کې د رعایت وړ ټکي**

دوهمه ماده:

(۱) په ځینو سیمو کې د مړي د کورنۍ له لوري کلیوالو او نورو خلکو ته په معینو ورځو کې طعام او مېلمستیا برابرېږي، چې فقهاء کرامو ترې منع کړې ده، په دې هکله د فقهاء کرامو څو اقوال په لاندې ډول دي:

- د مړینې په مناسبت د مړي د کورنۍ له لوري خلکو ته مېلمستیا برابرول مکروه دي؛ ځکه مېلمستیا په خوشحالیو کې وي، نه په غمونو کې، دا ډېر بد بدعت دی (چې د غم په ورځ خلکو ته مېلمستیا تیاروي، ځکه چې شریعت کې دا اصل نه لري او بل دا چې د دغو ورځو خپل خپل ترتیبونه او مکلفیتونه دي). (الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۰/۲) ط: دارالفکر بیروت) کذا فی فتح القدیر ، کتاب الجنائز، ( ۱۰۲/۲) و حاشیة الطحاوي علی مراقي الفلاح( ۳۳۹)

- د مړینې په مناسبت راټولو شویو خلکو ته د مړي د کورنۍ له لوري د خوراکونو چمتو کول ګناه ده؛ جریر بن عبدالله رضی الله عنه وایي: د مړي په کور کې د هغه د خپلوانو راجمع کېدل او د هغوی له لوري د خوراک ترتیبول موږ له نیاحت څخه ګڼله، (الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۰/۲) یعنې لکه ویر (چیغې او فریاد) مو چې ممنوع او بد ګڼلو دا مو هم بد ګڼلو (حال دا چې نیاحت او ویر کبیره ګناه ده).(رواه ابو داود والبیهقي فی شعب الایمان)

- د مړي د کورنۍ له خوا خلکو ته خوراک برابرول مکروه دي، ځکه چې له دې سره یې مصیبت زیاتیږي او بل دا چې د جاهلیت د زمانې له خلکو سره مشابهت راځي. (المغنی لابن قدامه ۴۱۰/۲) ، ط : مکتبة القاهرة)

- رواجي خیراتونه د ځان مشهوره کولو او ریاء لپاره دي، د الله تعالی لپاره یې نه‌کوي له دې امله باید ډډه ترې وشي.(.( الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۱/۲)

- رواجي خیرات که مباح هم شي له دې امله چې خلکو د واجب والي مرتبې ته رسولی، مکروه او ترک یې ضروري دی.(الفتاوی الحامدیة ( ۳۳۳/۲ )

پورته ذکر شویو شرعي دلیلونو او همداراز نورو ګڼو، ټولنیزو، شرعي او اقتصادي رامنځته کیدونکو زیانونو ته په کتو سره په لاندې ټکو باندې عمل کول ضروري دي:

(۱) د مړي د کور له لوري د بدرګې او مېلمستیا په څېر د رواج له مخې (په لومړۍ، دریمه، اوومه او څلوېښتمه ورځ) طعام برابرول، منع دي،(حاشیة طحاوي علی مراقي الفلاح (ص:٤٠٩).

د مېلمستیا له شکل او د ورځې له تعیین پرته د نقد مال یا جنس صدقه کول چې لاندې شرطونه هم پکې رعایت شوي وي، مړي ته د ثواب سبب دي:

۱- صدقه به د ریا، شهرت، سیالۍ، رواج او د خلکو د پېغور له امله نه وي.

۲- صدقه او خیرات به واجب او ضروري نه‌ګڼل کېږي، که چا ونه‌کړ هغه ته به په بده سترګه نه کتل کېږي.

۳- صدقه او خیرات یوازې بالغ او عاقل وارثان له خپل مال څخه په خپله خوښه کولای شي، د یتیم او غیرحاضر وارث مال به پکې نه‌مصرفیږي.

(۲) د یتیم له مال څخه په مړي پسې خیرات او صدقه کول که څه هم د یتیم په اجازه وي، منع دي، هغه څوک چې د یتیم په مال کې دا ډول تصرف وکړي، ضمان پرې لازم دی.

(۳) په ځینو سیمو کې د رواج له مخې خلک د مړي په لومړي اختر د مړي کور ته د تعزیت لپاره ورځي، دا هم ناسم رواج او منع دی.

(۴) په ځینو ځایونو کې رواج دی چې ښځه تر وفات وروسته ضرور باید د پلرنۍ (هدیرې) ته انتقال کړل شي او نه انتقال یې د ټول قوم لپاره پېغور ګڼل کېږي، چې دا کوم شرعي حیثیت نه لري، بلکې غوره دا ده چې د هغې د خاوند او اولادونو د خوښې په هدیره کې دفن کړل شي.

(۵) د ګاونډیانو او خپلوانو له لوري د مړي کور ته طعام برابرول مستحب عمل دی.

(۶) د تعزیت لپاره د شریعت مطهره له لوري د دفن له ورځې سره درې ورځې ټاکل شوي دي، البته غائبو اشخاصو ته تر هغه وروسته هم د تعزیت کولو اجازه شته.

(۷) له یو ځل فاتحې کولو وروسته بیا د مړي کور ته د فاتحې په نیت ورتلل مکروه دي.

(۸) امارتي مسئولین دې د خپلو وفات شویو خپلوانو فاتحې نه اعلانوي، له اعلان پرته د خپلو اوسېدلو په ځای کې د یوازې تر درو ورځو د فاتحې لپاره کښېناستلای شي.

(۹) حیله اسقاط د هغه مړي لپاره کېږي چې فقیر، یا مالدار وي خو له وصیت پرته وفات شوی وي، یا یې وصیت هم کړی وي خو د مال دریمه برخه یې د واجبو فدیو لپاره کفایت نه‌کوي، که مړی شتمن وي او وصیت یې کړی وي پر ولي باندې یې واجب دی چې واجبې فدیې به یې د مال له دریمې برخې څخه اداء کوي او یوازې په حیله اسقاط به بسنه نه‌کوي، البته د حیلې طریقه به د حنفي فقهې د هغو شرطونو مطابق وي چې یادونه یې شوې ده.

(۱۰) د شرعي حیلې شرطونه په لاندې ډول دي:

۱- د حیله اسقاط لپاره جمع شوی مال به د قبض لپاره یوازې مسکینانو ته ورکول کېږي، غني، ماشوم، لیونی، سفیه (بې عقله) او کافر ته به نه‌ورکول کېږي.(مجموعة الرسائل لابن عابدین الشامي (۲۱۱/۱)

۲- حیله اسقاط به د رواج او ځان ښودنې په خاطر نه‌کېږي؛ بلکې په دې نیت به کېږي چې د مړي غاړې پرې خلاصې شي.(حاشیة الطحاوي علی مراقي الفلاح شرح نور الایضاح (ص:٤٣٩)

۳- د مړي وارثان به د حیلې لپاره له داسې سړي څخه پیسې یا بل جنس نه قرض کوي چې هغه یې په خپله مالک نه وي او نه به له داسې شریک څخه قرض اخلي چې د بل شریک یې اجازه نه وي.(مجموعة الرسائل لابن عابدین (۲۲۵/۱)

۴- د فدیو ګرځوونکی باید د مړي وارث یا د وارث وکیل وي او وکیل ته وویل شي چې د هرې دورې

# فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج‌های نادرست هنگام خویشی عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ الْعٰلمين والصَّلٰوة والسَّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**نکات قابل رعایت در مراسم مُرده‌داری**

ماده دوم:

(۱) در بعضی مناطق از طرف خانوادهٔ متوفی به اهالی قریه و مردم دیگر در روزهای معین طعام و مهمانی ترتیب داده می شود که فقهای کرام از آن منع نموده اند، در این مورد چند قول فقهای کرام قرار ذیل است:

- ترتیب مهمانی به مردم از طرف خانوادهٔ متوفی به مناسبت مرده‌داری، مکروه است؛ زیرا مهمانی در خوشی ها می باشد، نه در غم‌ها، این بسیار بدعت بد است (که در روز غم به مردم مهمانی آماده می کند، زیرا که این در شریعت اصل ندارد و دیگر اینکه این روزها از خود ترتیبات و مکلفیت ها دارد.(الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۰/۲) ط: دارالفکر بیروت) کذا فی فتح القدیر ، کتاب الجنائز، ( ۱۰۲/۲) و حاشیة الطحاوي علی مراقي الفلاح( ۳۳۹)

- آماده کردن غذا به مردم جمع شده از طرف خانوادهٔ متوفی به مناسبت مرده داری گناه است؛ جریر بن عبد الله رضی الله عنه می‌فرماید: جمع شدن خویشاوندان در خانهٔ متوفی و ترتیب دادن غذا از طرف آنها را ما نیاحت می‌پنداشتیم؛ (الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۰/۲)

یعنی ماتم (چیغ و فریاد) را که ممنوع و بد می شمردیم، این را نیز بد می شمردیم (حال آنکه نیاحت و ماتم گناه کبیره است). (رواه ابو داود والبیهقي فی شعب الایمان)

آماده کردن غذا به مردم از طرف خانوادهٔ متوفی مکروه است، زیرا با این، مصیبت آنها بیشتر می شود و دیگر اینکه با مردم زمانهٔ جاهلیت مشابهت می‌آید .(المغنی لابن قدامه ۴۱۰/۲) ، ط : مکتبة القاهرة)

- خیرات‌های رواجی برای مشهورساختن خود و ریاء می باشد، آنرا به خاطر الله تعالی نمی کنند، به همین سبب باید از آن اجتناب شود.(.( الدر المختار و حاشیة ابن عابدین (۲۴۱/۲)

- خیرات رواجی اگر مباح هم شود، به سبب اینکه مردم آنرا به مرتبهٔ واجب رسانیده، مکروه و ترک آن ضرور است .(الفتاوی الحامدیة ( ۳۳۳/۲ )

با توجه به دلایل متذکرهٔ شرعی فوق و همچنان زیان های ایجاد شونده متعدد، اجتماعی، شرعی و اقتصادی دیگر، عمل کردن بر نکات ذیل ضروری است:

(۱) آماده کردن طعام (در روز اول، سوم، هفتم و چهلم)، از طرف خانهٔ متوفی از روی رواج مانند بدرگه (خیرات روزهای اولین متوفی) و مهمانی، منع می‌باشد،(حاشیة طحاوي علی مراقي الفلاح (ص:٤٠٩). ) صدقه دادن مال نقد یا جنس بدون شکل مهمانی و تعیین روز که شرایط ذیل در آن نیز رعایت شده باشد، سبب ثواب به متوفی است:

۱- صدقه به سبب ریاء، شهرت، سیالی، رواج و طعنهٔ مردم نباشد.

۲- صدقه و خیرات واجب و ضروری شمرده نشود، هرگاه شخصی نکرد به وی به چشم بد دیده نشود.

۳- تنها وارثان عاقل و بالغ از مال خود به رضایت خود صدقه و خیرات کرده می‌توانند، مال یتیم و وارث غیرحاضر در آن مصرف نشود.

(۴) صدقه و خیرات کردن از مال یتیم برای متوفی، اگرچه به اجازهٔ یتیم باشد، منع است، شخصی که در مال یتیم چنین تصرف نماید، ضمان بر وی لازم است.

(۳) در بعضی مناطق، مردم از روی رواج جهت تعزیت، در عید اول متوفی به خانهٔ متوفی می روند، این نیز رواج نادرست و منع است.

(۴) در بعضی مناطق رواج است که زن بعد از وفات باید ضرور به حضیرهٔ پدری اش انتقال یابد و عدم انتقال وی برای تمام قوم ننگ شمرده می شود، که این کدام حیثیت شرعی ندارد، بلکه بهتر است که در حضیرهٔ مورد نظر شوهر و اولاد وی دفن کرده شود.

(۵) آماده کردن طعام به خانهٔ متوفی از طرف همسایگان و خویشاوندان، عمل مستحب است.

(۶) از طرف شریعت مطهره با روز دفن، سه روز تعیین شده است، البته به اشخاص غائب، بعد از آن نیز اجازهٔ تعزیت وجود دارد.

(۷) بعد از یکبار فاتحه، دوباره رفتن به خانهٔ متوفی به نیت فاتحه مکروه است.

(۸) مسئولین امارتی فاتحهٔ اقارب متوفای خود را اعلان ننمایند، بدون اعلان، فقط به مدت سه روز در محل اقامت خود برای فاتحه نشسته می توانند.

(۹) حیله اسقاط برای متوفایی انجام می‌شود که فقیر یا مالدار باشد، مگر بدون وصیت وفات کرده باشد، یا وصیت نیز کرده باشد؛ مگر سوم حصهٔ مال او برای فدیهٔ واجب کفایت نکند، اگر متوفی ثروت‌مند باشد و وصیت کرده باشد، بر ولی او واجب است که فدیهٔ واجبه او را از سوم حصهٔ مال اداء نماید و تنها به حیلهٔ اسقاط اکتفاء نکند، البته طریقهٔ حیله مطابق شرایطی باشد که در فقه حنفی از آن ذکر شده است.

(۱۰) شرایط حیلهٔ شرعی قرار ذیل است:

۱- مال جمع‌آوری شده برای حیله اسقاط جهت قبض تنها به مساکین داده می‌شود، به غنی، طفل، دیوانه، سفیه (بی‌عقل) و کافر داده نمی‌شود.(مجموعة الرسائل لابن عابدین الشامي (۲۱۱/۱)

۲- حیله اسقاط به خاطر رواج و خودنمایی نه شود، بلکه به این نیت شود که ذمهٔ متوفی خلاص شود.(حاشیة الطحاوي علی مراقي الفلاح شرح نور الایضاح (ص:٤٣٩)

۳- ورثهٔ متوفی برای حیله از شخصی پول یا جنس دیگری قرض نگیرند، که خودش مالک آن نباشد و نه از شریکی قرض بگیرند که شریک دیگرش اجازه نداده باشد.(مجموعة الرسائل لابن عابدین (۲۲۵/۱)

۴- گردانندهٔ فدیه باید وارث متوفی یا وکیل وارث باشد و به وکیل گفته شود که بعد از ختم هر دوره،

لـه ختمېدو وروسته د هـرې بلـې دورې لپاره فقیر تـه د مـال پـه ورکولـو او بېرتـه اخیسـتلو کـې بیـا زمـا وکیـل يې.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۲۱/۱)

۵- د مړي قضـاء شـوي لمونځونـه او روژې بایـد دقیـق حسـاب شي او کـه دقیـق معلـوم نـه وي نـو پـه غالـب ګمـان دې حسـاب شـي.(الدرالمختار و حاشـیة لابن عابدیـن (۷۳/۲)

۶- فقیـر تـه د ورکـړې پرمهـال بـه یـې دا نیـت وي چـې فقیـر د دغـو پیسـو او شـیانو مالـک ګرځـي. (مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۲۵/۱)

۷- فقیـر بـه پـه دې پـوه وي او یـا بـه یـې څـوک پوهـوي چـې پـه قبـض کولـو سـره یـې مالـک ګرځي.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۱۲/۱)

۸- کـوم شـخص چـې فدیـې ګرځـوي او فقیـر تـه یـې ورکـوي بایـد لاسـونه تـرې لـرې کـړي او لـه هغـه څخـه پـه بېرتـه اخیسـتلو کـې تلـوار ونه‌کړي.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۵/۱)

۹- د فدیـو ګرځوونکـی بـه فقیـر تـه داسـې الفـاظ وایـې: دا د فلانکـي چـې د فلانکـي زوی دی د لمونـځ، روژې، قسـم یـا... فدیـې دي قبولـې یـې کـړه، هغـه بـه ووایـې: قبولـې مـې کـړې، زه یـې مالـک شـوم، بیـا بـه یـې بېرتـه یاد شـخص تـه هبـه کړي.(مجموعة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۱۲/۱)

۱۰- حیلـه کوونکـي بـه لـه دورې وروسـته د فقیـر لـه زړه بدوالـي څخـه ځـان سـاتي، کـه مـال د حیلـه کوونکـو وي دومـره مـال بـه پـه صدقه کـې ورکـوي چـې د فقیـر زړه پـرې خوشـحاله شـي.(مجموعة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۲۵/۱)

۱۱- کـه د حـج پـه میاشـتو کـې حیلـه کېـږي دا دې پـه نظـر کـې ونیسـي چـې دومـره پیسـې یـو ځـای فقیـر تـه ورنه‌کـړي چـې حـج وربانـدې فـرض شـي.

۱۲- کـه مـړي وصیـت نـه وي کـړی، ولـي یـې لـه مـال څخـه فقیـر تـه د وارثانـو پـه رضـا هغـه مهـال څـه مـال ورکـولای شـي چـې پـه وارثانـو کـې بـه یـې غائـب او صغیـر نـه وي او کـه یـې وصیـت کـړی وي، نـو بیـا د میـت د مـال لـه دریمـې برخـې څخـه مـال ورکـولای شـي کـه څـه هـم پـه وارثانـو کـې غائـب یـا یتیـم وي.(منهـاج السـنن شـرح الترمـذی (۲۶/٤-۲۵)

بـرای هـر دورۀ بعـدی در دادن مـال بـه فقیـر و پـس گرفتـن، دوبـاره وکیـل مـن هسـتی.(مجموعة الرسـائل لابـن عابدین (۲۲۱/۱)

۵- نمازهـا و روزه‌هـای قضـاء شـدۀ متوفـی بایـد دقیـق حسـاب شـود و اگـر دقیـق معلـوم نباشـد، پـس بـه گمـان غالـب حسـاب شـود.(الدرالمختار و حاشـیة لابـن عابدیـن (۷۳/۲)

۶- هنـگام دادن بـه فقیـر نیـت ایـن باشـد کـه فقیـر مالـک ایـن پـول و اشـیاء می‌گردد.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۲۵/۱)

۷- فقیـر بـه ایـن آگاه باشـد یـا شـخصی وی را بفهمانـد کـه بـا قبـض کـردن، مالـک آن می‌گردد.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۱۲/۱)

۸- شـخصی کـه فدیـه را می‌گردانـد و آنـرا بـه فقیـر می‌دهـد، بایـد دسـت‌های خـود را از آن دور کنـد و در دوبـاره گرفتـن از وی، عجلـه نکند.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۵/۱)

۹- گرداننـدۀ فدیـه بـه فقیـر چنیـن الفـاظ را بگویـد: ایـن فدیـۀ نمـاز، روزه، قسـم یـا... فلانـی کـه پسـر فلانـی اسـت، می‌باشـد، آن را قبـول کـن، او بگویـد: قبـول کـردم، مـن مالـک آن شـدم، سـپس دوبـاره آن را بـه شـخص مذکـور هبـه کنـد .(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۱۲/۱)

۱۰- حیلـه کننـدگان بعـد از دوره از ناراض‌شـدن فقیـر خـودداری کننـد، اگـر مـال از حیله‌کننـدگان باشـد، آنقـدر مـال را صدقـه بدهنـد کـه فقیـر بـر آن خوشـحال شـود.(مجموعـة الرسـائل لابـن عابدیـن (۲۲۵/۱)

۱۱- هـرگاه در ماه‌هـای حـج حیلـه انجـام شـود، ایـن در نظـر گرفتـه شـود کـه آنقـدر پـول یکجـا بـه فقیـر داده نشـود کـه حـج بـر وی فـرض شـود.

۱۲- اگـر متوفـی وصیـت نکـرده باشـد، ولـی وی از مـال بـه رضایـت وارثـان، هنگامی چیـزی بـه فقیـر داده می‌تواند کـه در بیـن وارثـان وی غائـب و صغیـر نباشـد و اگـر وصیـت کـرده باشـد، پـس از سـوم حصـۀ مـال میـت مـال داده می‌توانـد، گرچـه در بیـن وارثـان، غائـب یـا یتیم نیـز باشـد.(منهاج السـنن شـرح الترمـذی (۲۶/٤-۲۵ )

# هغه هیله چې پوره شوه

**ادریس، سروري**
**د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس**

«مـن أطاعنـي فقـد أطـاع اللـه، ومـن عصانـي فقـد عصـی اللـه، ومـن یطـع الأمیـر فقـد أطاعنـي، ومـن یعـص الأمیـر فقـد عصانـي» صحیـح بخـاري (۷۱۳۷)، صحیـح مسـلم (۱۸۳۵):

ژبـاړه: څـوک چـې زمـا اطاعـت وکـړي هغـه د اللـه تعالـی اطاعـت وکـړ، او څـوک چـې زمـا نافرمانـي وکـړي هغـه د اللـه تعالـی نافرمانـي وکـړه، او څـوک چـې د امیـر اطاعـت وکـړي هغـه زمـا اطاعـت وکـړ، او څـوک چـې د امیـر نافرمانـي وکـړي هغـه زمـا نافرمانـي وکـړه.

الحمدللـه چـې اللـه جـل جلالـه مـوږ تـه دا سـتر ویـاړ را پـه برخـه کـړ چـې د وخـت امیرالمؤمنیـن حفظـه اللـه تعالـی خپـل حضـور تـه ومنلـو. پـه داسـې حـال کـې چـې د ۱٤٤۷ هــق کال د ربیـع الاول دربیمـه نیټـه وه د اسـلامي امـارت یـو شـمېر وزیـر صاحبانـو، معیـن صاحبانـو، رئیـس صاحبانـو، ترڅنـګ دهېـواد لـه ټولـو ولایتونـو څخـه جیـدو علمـاً کرامـو شـتون درلـود، لکـه د اختـر د میاشـتي لیـدو تـه مـو د انتظـار شـېبې شـمېرلې نـه بجـې او پنځـه دقیقـې وې چـې د جنـاب پـه لیـدو سـره مـو د انتظـار لـرې پـای تـه ورسـیده.

د حاضرینـو پـه وړانـدې د یـو پادشـاه او سـلطان پـه څېـر نـه بلکـې د یـو مشـفق اسـتاد پـه څېـر یـې حضـور درلـود. د تـالار فضـا د اللـه اکبـر پـه نعـرو سـره نـوره هـم ښـکلې شـوه هـر چـا احساسـاتي اوښـکې تـوی کـړې او پـه ځیـر سـره یـې د خپـل محبـوب مشـر معنـوي ښـکلا مشـاهده کولـه درې ورځـې مـو دا سـعادت پـه برخـه شـو چـې هـرې ورځـې یـې بېـل بېـل کیـف او یـو معنـوي اثـر درلـود. د غونـډې پـه پیـل کـې عالیقـدر امیرالمومنیـن حفـظ اللـه تعالـی تـه د بیـان بلنـه ورکـړل شـوه چـې درې ورځـې پـه پـر لـه پسـې توګـه بـه راتلـو او د سـمینار ګډونوالـو تـه بـه یـې خپـل زریـن اقـوال بیانـول، غـواړم د امیـر المومنیـن حفظـه اللـه تعالـی طلایـې او قیمتـي وینـاوې چـې لکـه د ځلیدونکـو غمیـو پـه څېـر سـپینې او خـوږې وې را واخلـم او لـه تاسـو سـره یـې شـریکې کـړم:

۱ - زه شـریعت سـاتم امـارت نـه سـاتم، پـه دې کـې هـر راز قربانیـو تـه تیـار وم او یـم.

۲ - کـه اطاعـت نـه وي امـارت ګټـه نـه لـري، نـو لهـذا پـر تاسـو لازمـه ده چـې پـوره اطاعـت وکـړئ
د شته نظام ننګه وکړئ په دفاع کې یې کلک ودرېږئ.

۳ - مسـؤلیت پـه خولـه مـه غـواړئ او د بـل چـا لپـاره هـم واسـطه مـه جوړیـږئ.

٤- کلـه چـې مسـؤلیت درتـه وسـپارل شـي وربانـدې خـوښ یاسـت او چـې درڅخـه واخیسـتل شـي وربانـدې مـه خفـه کېـږئ ځکـه چـې دا د خپـل بنـده اړونـد د لـوی اللـه جل جلالـه پریکـړه ده، نولهـذا یـاد خفګان لـوی خطـر ده، ځکـه چـې دا د اللـه جـل جلالـه پـه قضـا بانـدې د سـوال پـه معنـا ده.

۵ - داسـې غوښـتنه لـه مـا مـه کـوئ چـې پـه هغـه سـره اللـه تعالـی جل جلالـه ناراضـه شـي اونـه بـه زه لـه تاسـو داسـې غوښـتنه وکـړم.

٦- د فتنـې مخـه ونیسـئ مـه پریـږدئ چـې سـر پورتـه کـړي د فرامینـو پـه عملـي کولـو کـې پـوره کوښـښ وکـړئ د ناقدینـو د نقـد تـر اغېـز لانـدې رانـه شـئ.

۷- هغـه غوښـتنې چـې کافـران یـې لـه مـوږ څخـه کـوي هیـڅ د منلـو نـه دي عـزم بـه مـو دا وي چـې د دوی پـه فرمایـش یـو قـدم هـم مـخ پـه وړانـدې لاړ نـه شـو لکـه پـه تېـره شـل کلنـه جهـادي دوره کـې چـې مـو هېـڅ ډول غفلـت ونـه کـړ د سـر پـه بیـه مـو خپلواکـي ترلاسـه او د یـو شـرعي نظـام خاونـدان شـوو افغانسـتان، حـر او خپلـواک، هېـواد ده د بـې شـمېره شـهیدانو پـه بـدل مـو دا سـعادت پـه برخـه شـوی، اللـه جـل جلالـه مکـړه کـه مـو د نـړۍ لـه کافرانـو سـره یـوه خبـره ومنلـه بیـا بـه اللـه جـل جلالـه او د هغـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم او خپلـو شـهیدانو تـه ملامـت یـو زه پـوره ډاډ درکـوم چـې یـوه غوښـتنه بـه یـې ونه منـم اوپـه دې کـې هـر راز قربانیـو تـه تیـار یـم.

۸- د نـړۍ کافـران مـات شـول، بـې غیرتـه وو وتښـتېدل هرڅـه یـې پـه میـدان پرېښـودل او الحمدللـه بـری د مجاهدینـو پـه برخـه شـو خـو پـام مـو وي چـې تبلیغاتـي جګـړه لا اوس هـم روانـه او ګرمـه ده چـې د زیاتـو مصارفـو پـه مـټ د میډیـا لـه لارې د دوی د کورنیـو او بهرنیـو ملګـرو لخوا پـر مـخ وړل کېـږي بایـد مخـه یـې ونیـول شـي، ملګـري پـوه کـړئ چـې د اسـلامي امـارت اړونـد د دوی د پوچـو او درواغجنـو تبلیغاتـو تـر اثـر لانـدې رانـه شـي.

۹- کوښـښ وکـړئ چـې افغانسـتان د علـم پـه مرکـز بـدل شـي تـر څـو نـه یوازې هېوادوال بلکـې نړیـوال هـم زمـوږ لـه علـم څخـه ګټـه ترلاسـه کـړي، امـر مـو کـړی چـې پـه همـدې موخـه دې پـه معیـاري ډول علمـي مراکـز جـوړ شـي ترڅـو ګاونـډي هېوادونـه وکـولای شـي چـې پـه لـږ لګښـت سـره زمـوږ لـه علمـاوو څخـه ډېرڅـه زده کـړي.

۱۰- پـه مدارسـو کـې طالبانـو تـه د امـر بالمعـروف نهـي عـن المنکـر اهمیـت پـه دوامـداره توګـه ور وښایاسـت دا ځکـه چـې طالـب د راتلونکي لپـاره بایـد داسـې څـوک وي چـې پـه علمـي، فکـري او معنـوي لحـاظ سـره جـوړ وي.

۱۱- څرنګـه چـې د افغانسـتان اکثـر اوسـیدونکي د امـام اعظـم ابوحنیفـه رحمـة اللـه پـه مذهـب دي
نـو لهـذا فتـوي بـه د حنفـي فقهـې لـه مخـې ورکـول کېـږي دا ځکـه چـې مـوږ مجتهدیـن نـه یـو، بلکـې مقلدیـن یـو.

۱۲- علمـای کـرام دنبـي کریـم صلـی اللـه علیـه وسـلم وارثـان دي د اللـه تعالـی بنـده ګانـو تـه د دینـي زده کـړو مسـؤلیت لـري، پـوره کوښـښ دې وشـي چـې هرچاتـه دیـن پـه پـوره ډول سـره ورسـوي د مختلفـو فرقـو لـه اضـرارو دې خلـک خبـر کـړي د کلیـو مـلا امامانـو تـه دې وظیفـه ورکـړل شـي چـې پـه مسـاجدو کـې کلیوالـو، ماشـومانو، طالبانـو تـه درسـونه پـه دوامـداره توګـه ووایـي کـه یـاد اسـتاد اقتصـادي مشـکلات درلـودل معاش دې ورتـه وټاکل شـي.

۱۳- زه بـه اللـه تعالـی او رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم حضـور تـه دا وړانـدې کـړم چـې مـا یـو مسـلمان تـه کلمـه، لمونـځ او احادیـث رسـولي دي.

## تجلیل از یوم الفتح و تمجید...

پیرامـون شـیوه اخـذ امتحانـات، تامیـن شـفافیت و رعایـت اصـول نظـم و دسـپلین در روز هـای امتحـان، بـرای حاضریـن معلومـات ارائـه نمـود. نامبـرده همچنـان بـه طـلاب گفـت: شـما چشـم و چـراغ جامعـه هسـتید و چشـم امیـد آینـده مـردم بـه طـرف شماسـت، پـس دروس خـود را نـه بـرای تـرس از امتحـان و نمـره گرفتـن ، بلکـه بـه خاطـر آبادانـی کشـور و خدمـت گـزاری صادقانـه و اخلاصمندانـه بـرای مـردم خـود فراگیریـد.

همچنـان در ایـن محفـل محتـرم مفتـی حبیـب اللـه قتـاده نـوری رئیـس نشـرات و روابـط عامـه وزارت معـارف نیـز در پیونـد بـه مبـارزات حـق بـر باطـل جوانـان مسـلمان و مجاهدیـن سـر بـه کـف امـارت اسـلامی علیـه اهریمنـان اشـغال گـر خارجـی سـخن ایـراد نمـوده، موفقیـت طـلاب دارالعلـوم عربـی کابـل را بـرای شـان تبریـک گفـت، و آنـان را متوجـه مسـئولیت هـا و مکلفیـت هـای آینـده شـان در قبـال وطـن و مـردم نمـود.

رئیـس نشـرات و روابـط عامـه وزارت معـارف بـا اشـاره بـه پـلان هـا و برنامـه هـای ملـی و توسـعوی وزارت معـارف در خصـوص عرضـه تعلیمـات اسـلامی و علـوم عصـری بـرای اولاد وطـن در سراسـر کشـور، اذعـان داشـت: حـالا وطـن مـا کـه بـه آزادی واقعـی خـود رسـیده، نسـبت بـه هـر وقـت دیگـر بـه شـما جوانـان تعلیـم یافتـه ضـرورت دارد، تـا علیـه هرگونـه تهاجـم فرهنگـی بیگانـگان مبـارزه نمـوده و بـا اندوختـه هـای علمـی خویـش مصـدر خدمـات شـایانی بـرای ملـت و کشـور خویـش شـوید و وطـن خـود را در قطـار کشـور هـای پیشـرفته دنیـا قـرار دهیـد.

محتـرم عبداللـه عبداللـه گل رئیـس محکمـه زون پکتیـا در کابـل و سـایر سـخنرانان در صحبـت هـای شـان نیزعـلاوه از یـاد آوری شـجاعت و پایمـردی مجاهدیـن امـارت اسـلامی افغانسـتان در آزاد سـازی کشـور از چنـگ اشـغال گـران بـه نیکویـی یـاد کـرده، بـا ابـراز خرسـندی از نتایـج مطلـوب طـلاب در امتحانـات از آن هـا خواسـتند کـه بـا اسـتفاده از داشـته هـای علمـی خویـش در آینـده بـرای وطـن خـود صادقانـه کار نماینـد.

## په لوګر ولایت کې ...

علماءکرامـو پـه خپلـو وینـاوو کـې د پوهنیـز وضعیـت لاښـه والـي په برخـه کـې د پوهنـې وزارت لـه هڅـو سـتاینه وکـړه.

دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې څـه مـوده وړانـدې هـم پـه لوګـر ولایـت کـې د ۸۱ مېلیونـه افغانیـو پـه لګښـت ۷ بابـه ښـوونځي جـوړ او فعـال شـوي وو.

## د کابل ښار د پوهنې او خصوصي زده کړو...

نـوي رئیـس محتـرم مولـوي جنـت ګل عزیـز د پوهنـې وزارت مشـرتابه تـه ډاډ ورکـړ چـې خپـل مسـئولیت او دنـده بـه پـه پـوره صادقانـه توګـه ترسـره او ټولـې چـارې بـه د همغـږۍ او یووالـي پـه فضـاء کـې پـه بشـپړ ژمنتیـا سـره تـر سـره کـړي.

## آغاز کار ساخت و ترمیم مراکز...

اریـغ ولسـوالی آقچـه آن ولایـت کـه ۵۸۳ هـزار افغانـی هزینـه دارد آغـاز گردیـد.

رئیـس معـارف ولایـت جوزجـان تأکیـد کـرد، کـه ایـن پروژه‌هـا بـر اسـاس قـرارداد منعقـده از طـرف نهـاد هـای همـکار بـا معـارف در مـدت سـه مـاه تکمیـل خواهـد شـد.

## د کابل ولایت د مدارسو ...

او اسـتادانو پـام یـې د زده‌کوونکـو او ځوانانـو ترمنـځ د رد شـویو افـکارو د خپرېـدو مخنیـوي تـه راواړاوه.

ورپسـې د سـیمینار ګډون‌والـو د داسـې علمـي غونـډو پـه جوړولـو خوښـي څرګنـده او پـه راتلونکي کـې یـې د دغـه شـان نـورو پروګرامونـو د ترسـره کولـو غوښـتنه وکـړه.

**Marif**
Weekly

**کتنپلاوی:** شیخ محمد طارق «طاؤس»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا :** محمد قسیم «یعقوبي»
**شمېر :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او شمېرې زموږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 308 /2025

# د کابل ښار د پوهنې او خصوصي زده کړو نوي رئیسان معرفي شول




د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ، د خصوصي زده کړو پخوانی رئیس محترم مولوي جنت ګل عزیز د کابل ښار پوهنې ریاست د نوي رئیس په توګه او د کابل ښار پوهنې پخوانی رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني د یاد وزارت د خصوصي زده‌کړو د نوي رئیس په توګه د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق لخوا د یو لړ مراسمو په ترڅ کې معرفي شول.

د کیفیت تضمین محترم معین د خپلو خبرو په پر مهال په ادارو کې د بدلون او تقرر ارزښت او اصل بیان کړ، د مسئولیتونو د اهمیت په اړه یې په هر ارځیزه توګه خبرې وکړې او د رئیسانو له معرفي کولو وروسته یې د دواړو رئیسانو د تېرو خدمتونو څخه د ستاینې ترڅنګ، هغوی ته په نویو مسئولیتونو کې د لا بریالیتوب هیله وکړه. نوموړي د کابل ښار پوهنې ریاست کارکوونکو ته هم یادونه وکړه چې خپلو مسئولیتونو ته جدي پام وکړي او په دوامداره توګه د خپلو لوړ پوړو چارواکو له اوامرو څخه اطاعت وکړي.

د کابل ښار پوهنې پخواني رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني په خپله وینا کې د کابل ښار پوهنې ریاست نوي رئیس ته د تاکل کېدو مبارکي وویله او د پوهنې وزارت د مشرتابه څخه یې د باور او اعتماد له امله مننه وکړه.

همدارنګه د کابل ښار پوهنې ...

۳مخ

## د کابل ولایت د مدارسو او ښوونځیو د استادانو لپاره سیمینار تر سره شو

د کابل ولایت پوهنې ریاست لخوا د تنظیم شوي پروګرام سره سم، د پغمان ولسوالۍ د مدارسو او ښوونځیو ۱۵۰۰ تنو استادانو او زده‌کوونکو لپاره "د زده‌کوونکو سالمه او اسلامي روزنه او د فکري جګړې سره د مبارزې لارې" تر سرلیک لاندې یو ورځنی علمي سیمینار د یوې تعلیمي مرستندویه ادارې په همکارۍ ترسره شو؛ ترڅو ځوانان په اسلامي او ملي روحیه او د کلتوري یرغل او فکري جګړې سره د مبارزې په برخه کې وروزل شي.

د یادونې وړ ده چې د پوهنې چارواکو سربېره، علماءکرامو او د ځایی خلکو استازي هم په سیمینار کې حاضر وو. دوی په اسلامي روحیې سره د زده‌کوونکو د سالمې روزنې او د مشرانو او آمرینو اطاعت په تړاو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او د ښوونکو ...

۳مخ

## سفر هئیت ریاست عمومی نصاب و انکشاف مسلکی معلمین به ولایت بامیان

هیئت ریاست عمومی نصاب و انکشاف مسلکی معلمین برای نظارت از چگونگی فعالیت ها و ارتقای ظرفیت اعضای انکشاف مسلکی معلمین به سطح مرکز و یک تعداد ولایات، به ولایت بامیان سفر نموده و با محترم قاری عنایت الله سهار، رئیس معارف آن ولایت دیدار کرد.

طرفین در این دیدار در باره ارتقای ظرفیت و توانمندسازی اعضای انکشاف مسلکی معلمین در آن ولایت با هم گفتگو نمودند،

رئیس معارف بامیان ضمن استقبال از هیئت مذکور افزود؛ در ولایت بامیان همه فعالیت های معارف طبق دستور و اصول وزارت معارف انجام می شود و این اقدام بسیار نیک است که اعضای انکشاف مسلکی معلمین این ولایت مورد نظارت و ارزیابی قرار می گیرند، چون تمامی ورکشاپ‌ها و سیمینارها طبق قانون و مقررات جهت ارتقای ظرفیت و راهنمایی آن ها به صورت درست و مسلکی دایر گردیده و ریاست معارف این ولایت جهت برنامه های توسعوی و ظرفیتی معارف تلاش همه جانبه می نماید.

## سنگ تهداب یک باب دارالعلوم در ولایت لغمان گذاشته شد



سنگ تهداب تعمیر جدید دارالعلوم نعمانیه در شهر مهترلام، مرکز ولایت لغمان با حضور رئیس و مسئولین معارف آن ولایت گذاشته شد.

محترم مولوی شاه‌جهان ساجد رئیس معارف ولایت لغمان در مراسمی که به همین منظور برگزار گردیده بود گفت تعمیر دارالعلوم یاد شده روی قطعه زمینی به مساحت ۱۴ بسوه به هزینه ۱ میلیون و ۲۷۳ هزار افغانی از بودیجه شخصی محترم شیخ زاهدالله حقانی، رئیس پوهنځی شرعیات پوهنتون لغمان خریداری گردیده است اعمار می شود.

وی افزود ساختمان این دارالعلوم به هزینه بیش از ۱ میلیون افغانی به حمایت مالی مردم محل اعمار خواهد شد و قرار است بعد از اتمام کار ساخت آن برای بیش از ۱۲۰۰ تن طالبان العلم در آن ولایت زمینه تعلیم در این دارالعلوم فراهم شود.

رهبری وزارت معارف کشور از حمایت های مادی و معنوی مردم کشور با نظام معارف اظهار سپاس و قدردانی می کند.

## مساعدت بیش از ۱.۷ میلیون افغانی باشنده‌گان میدان وردگ با مراکز تعلیمی این ولایت

به اساس گزارش ریاست معارف ولایت میدان وردگ، در جریان ماه اسد سال تعلیمی ۱۴۰۴ هجری شمسی باشنده‌گان علم دوست این ولایت با ۱۸ باب مکتب به ارزش مجموعی ۱ میلیون و ۷۰۵ هزار و ۸۷۰ افغانی کمک مالی نموده‌اند.

مسئولین معارف آن ولایت می‌گویند باشنده‌گان ولسوالی‌های سیدآباد، جغتو، چک و حصه اول بهسود در بازسازی مکاتب و تهیه برخی لوازم اداری با مکاتب مناطق شان مساعدت کرده‌اند.

بر مبنای این گزارش، از آغاز سال تعلیمی ۱۴۰۴ تا کنون، مردم ولایت میدان وردگ در مجموع ۱۰.۹ میلیون افغانی به مکاتب کمک کرده‌اند.

قابل ذکر است که در چهار سال اخیر، وزارت معارف با همکاری مردم و نهاد های همکار، توجه ویژه‌ای به معیاری‌سازی تعلیم و تربیه در کشور داشته است.

## آغاز کار ساخت و ترمیم مراکز تعلیمی در ولایت جوزجان



کار ساخت و ترمیم سه باب مکتب در ولایت جوزجان به هزینه بیش از ۹ میلیون افغانی به کمک مالی یک نهاد همکار با معارف آغاز گردید.

به گفته محترم الحاج مولوی لعل‌جان راشد، رئیس معارف ولایت جوزجان در لیسه جلال‌آباد شهر شبرغان، اعمار شش صنف درسی و دو اطاق اداری، مبرز ده غرفه‌یی، دیوار احاطه، حفر چاه آب، ذخیره آب با سیستم سولری با هزینه ۷ میلیون و ۱۰۶ هزار افغانی، اعمار دیوار احاطه به طول ۳۶۴ متر برای مکتب متوسطه افشارخانه شهر شبرغان به هزینه یک میلیون و ۶۸۲ هزار افغانی و حفر چاه آب آشامیدنی همراه با سیستم برق آفتابی و ذخیره‌گاه آب آشامیدنی در لیسه ینگی...

ص۳

**هیڅ هېواد له علم پرته پرمختګ نشي کولای، که غواړئ هېواد مو پرمختګ وکړي نو راتلونکي نسلونه او ماشومان مو د علم او پوهې په ګانه سمبال کړئ.**